حبیب الله بختیال ۲۰۲۲/۰۴/۲۷

د ګندنې له برکته

(طنز)

ډاکټرې شاه ګل له پوهنتون څخه تر چانسي فراغت وروسته، چې ددې له نیکه بخته یې دویم او دریمو چانسونو حساب ته د حساب ماشین عاجز ؤ د سلګونو واسطو له لارې د ښار په یوه څنډه کې معاینه خانه خلاصه کړه او د خاوند او یو نیم درجن بچیانو خدمت لپاره یې یوه کونډه مزدوره کړه.

په لومړي سر کې یې چندانې کار ښه نه ؤ، خو دا چې د نورو ډاکټرانو خلاف یې په لومړي سر کې له ناروغانو فیس نیغ په نیغه نه اخیست او د درملتون په درملو کې به یې ترینه ګرځاوه، نو ځکه خو به ډیری ساده ښځې له دې رازه په ناخبرۍ ډاکټرې شاه ګل ته ورتلې او چې به د مړي ژوندي مسئله شوه نو له یوې بلې سره به یې د ډاکټرې صفتونه کتار کړل. خو له دې سره سره بیا هم د ډاکټرې نورې سیالې هم په ښار کې وې، چې خلکو ته د هغې په اړه د منفي تبلیغاتو له لارې یې خلک په ځانونو را مات کړي وو او د ډاکټرې شاه ګل نو له دوي سره په دې زور نه ؤ سم او څه یې نه شوای ورته ویلای، چې د هغه چا خبره آزاد بازار ؤ، خو یوه ورځ داسې هم راغله، چې د ډاکټرې شاه ګل بخت په بله واوښت او نړیوال شهرت یې پیدا کړ.

خبره خو داسې وه، چې ډاکټرې ته به هر ډول ناروغان راتلل او دې هم په خپله په خپله خوښه داسې درمل ورته لیکل ، چې که به د یوې نسخې په نیمایي کې څه غلطي ورځخه وشوه، نو په بلې به یې پیل وکړ او پخوانۍ هغه به یې سم له واره څیرې کړه او د خځلو ستل ته به یې ورواچوله او نالوستو ښځو چې به په دې تړاو ورځخه پوښتنه وکړه، چې : (ای نخسه را چیرا پاره میکني؟)). نو دې به سوړ اسویلی وکیښ او ورته به یې وویل:

ـ به خدا نمی فامم که ای دیگه داکترا چطور از خدا نمی ترسه اگه یک دوا ره خوب نوشته میکنه دیگه دوا ره باز غلط میکنه ، خو باز هم ده ای فکر نیستند که اگر بالای مریض تاثیر بد کنه چطور پیش خدا جواب میگه؟.!

او په دې خبرو سره به یې داسې ښود، چې ګویا د نسخې په لیکلو کې څومره دقت کوي او له ډیر احتیاط څخه کار اخلي او ناروغانو چې به ددې د زړه سوي دا ډول تمثیلي حالت ولیده نو یوې او بلې ته به یې لا نور صفتونه کتار کړل. خو یوه ورځ داسې هم وه، چې یوه د پاخه عمر ښځه چې بخت بې بې نومیده او د نس له درده یې ځګیروي کول سهار وختي د ډاکټرې کور مخې ته په کټ کې راوړل شوه او ډاکټرې چې ورځخه پوښتنه وکړه، چې څه دې خوړلي، چې داسې یې په تلیف کړې یې، نو ناروغې په ډیر کړاو داسې ځواب وکړ:

ـ هیچ چیز نه خوردیم، شو بولاني پخته میکدم ، خدا داشته باشي شه گندنه ره از گوشت کده هم زیات دوست دارم امو بود که یک دو گیلاس امو آو گندنه ره خوردم که ده بولاني می انداختم، بس از نصف شو به ای حالت استم.

ډاکټرې شاه ګل چې د بخت بې بې خبرې واوریدې، نو پوه شوه ټول کار د ګندنې د پاتې شنو اوبو دی چې له ګندنې سره د ډیر شوق له مخې یې په سر اړولي دي. دا چې د ناروغې حالت کړکچن ورته ښکاره شو، نو سم له واره یې د ښار په مشهور لابراتوار کې د وینې معاینې سپارښتنه ورته وکړه او ناروغه بخت بې بې یې د خپل کتنځې په دهلیز کې په داسې کټ بستر کړه، چې له پښو سره یې تشناب ؤ او چې په تکلیف به شوه، نو د کورنۍ نورو خپلوانو به یې نږدې وروسته او په همدې ډول تر څو د معایناتو درک معلومیدو، بخت بې بې له اخوټوخه لویدلې وه او د ناروغۍ له شدته به یې ځینې وخت په اپلتو پیل وکړ او چې درد به پرې زیات شو، نو ویل به یې چې : ((خدا خانیته خراب کنه گندنه فروش، که گندنه ره سودا میکدي چرا اول پاک نه ششتي؟!)).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بخت بي بي لابراتواري معايناتو شاوخوا لس ساعته وخت ونيوه او چې کله يې پايله ډاکټرې شاه ګل ته راوړله او هغې د کتنې ځې ته ځيرمه د انګريزۍ کورس مدير باندې وژباړله ، نو ايله پوه شوه چې خبره احتياط او کنټرول څخه وتلې او سم له واره يې د خپل پوهنتون رئيس ته چې دې به د محصلې پيغلتوب په وخت کې يو نيم ساعت په دفتر کې ټوکې ټکالې ورسره کولې ذنګ وواهه او ورته يې وويل، چې په خپله سيمه کې يې په يو ناروغ کې د معايناتو له لارې داسې ناپيژندل شوی ميکروب کشف کړی، چې تر اوسه يې نوم هم چا نه دی اوريدلی او دا چې دا ميکروب د ډاکټرې شاه ګل کشف کړی نو بايد ددې نوم (شاه ګل) او يا هم د (ګندن) يعنې هغه چې د ګندنې څخه اخيستل شوی وي نوم ورکړل شي او بايد چې همدا اوس د نړيوالو ريکارډونو او ساينس پوهانو په کتابونو کې ثبت شي.

د پوهنتون رئيس چې دا واوريدل، نو سم له واره يې ورته سپارښتنه وکړه، چې ناروغ دې د ولايتي روغتون په امبولانس کې او يا هم د امنيتي ځواکونو په چورلکه کې پلازمېنې ته ورولېږي ؛ تر څو يې په وينه کې نوی وايروس معاينه او بيا بهر ته د زياتو څېړنو په موخه ولېږل شي، چې همداسې وشول او کله چې په پلازمېنه کې د بهرنيو ډاکټرانو لابراتواري معايناتو کې هم د ميکروب کره ډول څرګند نه شو، نو دا وخت د ډاکټرې شاه ګل او بخت بي بي او د دواړو کورنيو د بخت ستورى وځليد. ځکه د ډاکټرې شاه بي بي له سپارښتنې سره سم بهرنيو ډاکټرانو د ميکروب پيژندنې په موخه بهر ته د بخت بي بي او د هغې خاوند او دغه راز د شاه ګل او د هغې خاوند د ليږلو ترتيبات ونيول او اونۍ لا تيره نه وه، چې د ټولو لپاره سياحتي پاسپورټونه، چې د اروپا ويزې پرې لګيدلې وې ورکړل شول او له همدې سره ورته وړيا ټکټونه هم ورکړل او څلورو واړو د اروپا په لور پرواز وکړ.

اروپا ته په رسيدو سره ساينس پوهان د بخت بي بي او ورسره پلاوي د هرکلي لپاره هوايي ډګر ته راغلي وو او په يوه بله چورلکه کې يې څلور واړه له هوايي ډګره يوه نوموتي روغتون ته يوړل. د ميکروب د پيژندنې په موخه د ساينس پوهانو څېړنې پيل شوې او وروسته له دريو ورځو ساينس پوهانو په ډاګه کړه، چې د بخت بي بي په وينه کې يو نا معلوم خطرناک نوي ميکروب چې تر اوسه يې ساری نه ؤ ليدل شوی وموندل شو او ددې ميکروب کشف کوونکې ډاکټره شاه ګل او دا چې ميکروب د ګندنې له ناولو اوبو رامنځته شوی، نو د ډاکټرې شاه ګل په نوم ميکروب ته د (ګندن) نوم ورکړل شو او ورسره ورسره د نړيوالو ريکارډونو په کتاب او د ساينس پوهانو په لويه نړيواله ټولنه کې ثبت شو.

دا خبره رسنيو د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوله او هر څوک په دې خبر شول، چې د يوې افغانې په وينه کې د لومړي ځل لپاره د وژوونکو ناروغيو د ميکروبونو په څېر يو داسې ميکروب کشف او پيژندل شوی، چې په نړۍ کې يې ساری نه دی ليدل شوی او ډاکټرې شاه ګل له خپلې چالاکۍ په کارونې بله ورځ په هماغه اروپايي روغتون کې نړيوالو رسنيو ته په يوې ځانګړې خبرې غونډه کې په ډاګه کړه چې ددې نوي ميکروب چې کشف کوونکې يې په خپله ده نړيوال شهرت موندو سره اوس دې او کورنۍ ته يې په خپل هيواد کې د امنيتي ستونزو سربيره وسله والو او د ګاونډيو هيوادونو جاسوسانو اخطارونه ورکړي او د مرګ ګواښونه يې ورته کړي، نو ځکه خو اوس نه يوازې دا چې خپله له خپل خاوند سره خپل هيواد ته نه شې تلای بلکې د کورنۍ نور غړي يې هم تر ګواښ لاندې دي او هغوي هم بايد اروپا ته راوستل شي، چې له دې خبرې کانفرانس وروسته هماغسې وشول؛ کوم چې دې غوښتل او هغه داسې چې بخت بي بي خوارکۍ تر ناڅرګندې درملنې وروسته له خپل خاوند سره بيرته هيواد ته وليږل شوه او له هغه لوري د شاه ګل يو نيم درجن بچيان ، زړه ته ورنږدې ورونه او خويندې او زاړه مور او پلار يې اروپا ته راوستل شول او ټولو ته يو ځانګړی عصري بلاک ورکړل شو او د اوسيدو هر ډول آسانتياوې ورکړل شوې.

خو له ډاکټرې شاه ګل، چې اوس کوم خپلوان په ټليفون کې پوښتنه وکړي، چې دا هر څه ورته د څه له برکته وو؟ نو دا ورته په ځواب کې وايي:

ـ بس ای تمامیش از برکت گندنه بود! اگه شما هم علاقه دارین که ایتو یک چانس اروپا آمدن بریتان برابر شوه پس ده تمام زمینای تان گندنه کشت کنین و مثل بخت بي بي بریتان د چانس برابر کدن آمدن به اروپا ره مه مساعد میکنم و بري خارجیا میگم که واقعه میکروب گندن رخ داده و مریض باید به اروپا آورده شوه.

د ډاکټرشاه ګل له دې سپارښتنې سره اوس يې پاتې خپلوان او د سيمې اوسيدونکې ټول د ګندنې په خوړلو او کرلو لګيا دي او په دې تمه دي، چې د خواره کوټې بخت بي بي په څېر به کله د ګندن له ميکروب سره مخ او ناروغان کيږي؛ تر څو يې ډاکټره شاه ګل ورته اروپا ته د تګ چانس برابر کړي او په دې ډول له خپل هيواده پښې سپکې کړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ